بسم الله الرحمن الرحيم

# نوي رسنيزه ټکنالوژي

## دوهم ټولګی

شوونکی: عزت الله اریال
کندهار پوهنتون ژورنالیزم او عامه اړیکو پوهنځی

# پنځم فصل
# انټرنیټي نړۍ او رسنۍ

۱: ویب سایټ

- ویب سایټ website له دوو کلمو څخه جوړ سوي دی چي web دِ غڼو جال په معنا او site د انټرنیټ پر مخ یوه مشخصه فضا ته ویل کیږي
- نو ویالای سو چي ویب سایټ د انټرنیټ په مخ د یوه سازمان ،موسسه، شرکت او یا هم د یوه شخص لپاره مشخص سوي برخه یا صفحه ده چی د ږغ، تصویر ، متن او نور اړوند مواد پکښې ځای پرځای سوي وی او یا په لنډ ډول ویل سو چي ویب سایټ د انټرنیټي نړۍ څخه یو کوچنکه برخه دمشخص هدف لپاره رانیول او استعمالول دي
- دیادوني ته چي د ویب سایټ یا انټرنیټي صفحي لپاره مختاړي یا انټرنیټي نوم world wide web _www_استفاده کیږي
- دهري اداري ویب پاڼه یا ویب سایټ مختلف شکلونه او پارمټونه لري چي اړوند اداره ورته معلومات پورته کوي او نور خلګ ورڅخه استفاده کوي

# انټرنیټي نړی او رسنی

## ۲: ویبلاک weblog

دانټرنیټي صفحو یوه بله بڼه وبلاګweblog دی. د ارتباط ، اطلاعاتو اومعلوماتو له خپرولو سره په تړاو د وبلاګ د منځته راتګ هم یو مهم اقدام دی ویبلاګ هم دسایټ غوندي یو انټرنیټی صفحه ده خو توپیر یي دادی چي ویبلاګ نسبت ویب سایټ ته په کښتنه سطحه او معلوماتي ظرفیت یي کم دی.

همدارنګه هرشخص کولای سي ځانته یو مشخص ویبلاګ ولري مګر دهر کس لپاره شخصي ویب سایټ لرل ستونزمنه ده او موږ داسي ویب سایټونه هم لرو چي دویبلاک خدمات وړاندي کوي

ځیني پدي عقیده دي چي اولین وبلاګ د )ټیم برنرزلي( په واسطه د )info.cern.http(په نوم جوړ شو، دوهم وبلاګ د )mare andreessen( په واسطه په )ncsa( کي رامنځته شو. چي پدي کي هم د برنرزلي په شان کارونه ترسره کیدل

# انټرنیټي نړۍ او رسنۍ

د۱۹۹٦م نه تر ۱۹۹۷م کلونه چې هغه د ویبلاګ د پرمختګ مهم کلونه بلل کیږي څو نور وبلاګونه هم منځته راغلل، له لومړنیو وبلاګونو څخهکولای شو د )winer daver( اړوند اخبار seripting د وبلاګ )barger(او )cameron barret( وبلاګو ته اشاره وکړو.

د وبلاګ یا وبلاګ نویسی شمیر تر ۲۰۰۰م کاله له ۱۰۰۰ څخه زیات وبلاګونه جوړسول، او دغه تعداد د ۲۰۰۲ کال تر نیمایي پورې له نیم ملیون څخه هم زیات شو. داوسني جوړښت په اساس د وبلاګونوتعداد د وبلاګ لیکني په سیستم کې له سلو زرو څخه زیات دي، په هرو څلویښتو ثانیو کې یو نوی وبلاګ رامنځته کیږي.

په افغانستان کې ویبلاک تر ۲۰۰۱ کال مخکې شتون نه درلود لومړی وبلاګ لیکونکی د افغانستان په داخل کې عزیزالله حکیمي دی، چې په یوه خارجي موسسه کې ئی کار کوی، لومړی وبلاګ یې په افغانستان کې په ۱۳۸۱ه ش کالکې د کنګاش په نامه جوړ کړ، په افغانستان کې هغه وخت وبلاګ یوه نوی پدیده وه، یواځې خارجي موسساتو په کابل کې انترنټ ته لاس رسي درلود، مګر په ۱۳۸۳ ه ش کال کې بی شماره وبلاګونه د افغانستان د وبلاګ فهرست ته ورزیات سول، چې ۳۰۰ ته یې تعداد ورسید؛ په ۱۳۸۰ ه ش کال کې نه یواځې په افغانستان کې بلکې په ټوله نړۍ کې اوج ته ورسید

# دویبلاګ ځانګړتیاوي

- د وبلاګ سبګ او طریقي عموما شخصې، غیري رسمي او خپلواک دي هرڅوک په خپل ذوق مخته ځي
- څرنګه چې وبلاګونه د کیفیت، محتوا او اهدافو له لحاظه مختلف ډولونه لري، نو لوستونکی یي هم خاص دي
- سادګي  دویبلاګ یو بله مهمه ځانګړنه ده چې هرڅوګ ورڅخه اسانه استفاده کولای سی
- د وبلاګونو ایجادول دټولني په یوه خاص قشر پوری ندي تړلي بلکي دټولني مختلفی طبقی کولای شی وبلاګونه رامنځته کړي.
- دویبلاګ ډیزاین، مطالبو خپرول، تعیرات راوستل داهرڅه د استعمالونکي په لاس دي
- ویبلاګ کي هرڅوک خپل معلومات او خبري ازادانه وړاندي کولای سي ځکه یي نو پرمختګ هم زیات وکړ

# Electronic Media :برښنايي رسنی

- الکتړانیک یا بریښنایی رسنیو کلیمه تر انټرنیټ مخکی یوازی راډیو او تلویزون ته کاریده، خو دانترنیټ په منځ ته راتګ سره بیا هم ویب او ویبلاګونه ته همدغه برښنایی یا الکتړانیک کلیمه وکاریده، په برښنایی رسنیو کی ټولی هغه رسنیزی وسیلی راځی ،چی له بریښنا سره سراو کار لری.
- انلاین رسني بیا هغه رسني دي چي بریښنایي دي  خو دبریښنایي ترڅنګ دانټرنیټ پر صفحه هم فعالیت وکړي
- .د ډیجیټل او انلاین رسنیو ترمنځ توپیر دادی؛ چی ډیجیټل په وسایلو کی خوندی وی، اوپر انټرنیټ کې نه وی پرلیکه شوی، خو انلاین بیا پخپله په انټرنیټ کی موجود وی، ډیجیټل رسنی هغه مهال پر لیکه یاانلاین ګڼل کیږی، چی پر ویب راجوتی شی.

# انلاین یا سایبر رسنۍ cyber media:

- cyberکلمه د cybernetic د کلیمې یوه برخه ده، چې د لومړي ځل لپاره په ۱۹۴۸م کال د اړیکو یو کارپوه ناربرت وینز وکاروله ، cyberneticد لاتیني ژبې د gubernetic له ریښې څخه اخیستل شوي، چې د لارښوني او قوماندې لپاره کاریده cybernetic. د مطالعې او پوهې معنې ورکوې، خو تر ډیره د سایبر د کلیمې اطلاق په انټرنټي فضا او پر هغه څه باندې اطلاق کیږي، چې پر دغه فضا کې موجود وي
- **الکترونیکي ورځپاڼه:**
- الکترونیکي ورځپاڼې هغه آزادی رسنۍ دي چې له زماني او مکاني محدودیتونو څخه آزادي وی. او یا هم ویالای سو کله ي ورځپاڼه په سافټ او PDF یا بل شکل کي انټرنیټ دلاري ترلاسه کړو الکترونکی ورځپاڼه ورته ویالای سو ځکه لوستنه به یي هم دیوي بریښنایي وسیلي دلاري وي.

# دانټرنیټي خپرونو ځانګړتیاوي

- ۱.:- د انټرنیټ پرصفحه مطالب او خبرونه لنډ وي لنډ مطالب په ښه ډول د خلکو د توجو وړ ګرځي.
- ۲:- کمنټونه او غبرګونونه هم هلته په نلاین ډول ورکول کیږي او موضوع لا ښه واضح کیږي
- ۳:- الکترونیکي ټولنه یواځې د یو ډیر سریع او تیز تیریدونکې موج په څیر ده، چې د مسؤلیت د اداکولو تر ټولو ښه وسیله ده.
- ۴ په دغو آزادو ستیجونوکې خپریدونکي احساسات نشي کولای چې ژورنالیستي تعبیرونه او د لیکنې مهارتونه څرګند کړي.
- ۵ په الکترونیکي نشراتو کې داسې غیر واقعي مطالب هم وجود لري چې باید پري پوه سو او خاتمه ورکړل شي، او د لوستونکو د ضرورتونو مطابق داسې پرمعنا صوتي او تصویري منځپانګه لوستونکو ته وړاندې کړو چې د خلکو د توجو سبب وګرځي.

# ؟

# پوښتنه

درنو محصلینو!

لومړی یاد پریزنټیشن مطالعه کړئ او ورپسي چټېر مطالعه کړئ څکه یوازي د فرزنټیشن ځخه پرته د استاد له تشریح استفاده نکیږي او نه مو هم ټول پوښتني حل کیږي  خو د دواړو ترمطالعي ورسته که چیري بیاهم کوم سوال یا پوښتنه درته پاته وه کولای سي  خپله پوښتنه راته ۰۷۰۸۸۸۴۸۸۶ وټس اف شمیره باندي تر راتلونکي درس مخکي پریږدي